**بسم الله الرحمن الرحيم**

**(ژباړه)**

**علماوو ته پیغام**

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«مَنْ لَزِمَ السُّلْطَانَ افْتُتِنَ، وَمَا ازْدَادَ عَبْدٌ مِنْ السُّلْطَانِ دُنُوًّا إِلَّا ازْدَادَ مِنْ اللَّهِ بُعْدًا».** [رواه أبو داود، 2859]

***ژباړه:*** *«هر څوک چې د حاکم خدمت غوره کړي، په فتنه کې لوېږي او هر بنده چې حاکم ته نږدې شي، په حقیقت کې له الله سبحانه وتعالی څخه لرې کېږي.»*

د دغه حدیث د یادولو موخه دا نه ده، چې د اسلامي امت او علماوو تر منځ اړیکې ته زیان ورسېږي، بلکې موخه یې پر هغه واقعیت او حقیقت د امت پوهول دي چې علماء ورسره مخ دي. دلته موخه درباري علماء دي او امت باید درباري علماوو ته له نږدې کېدو څخه ډډه وکړي. پر همدغه اساس له عالم څخه د هغه د مقام او شخصیت له امله پیروي نه کېږي، بلکې د علمیت او باور له مخې یې متابعت او پیروي کېږي.

زموږ پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته په یو شمېر احادیثو کې په وار وار د بدو علماوو په اړه خبرداری راکړی او علت یې د علماوو هغه مهم رول دی، چې دوی یې ادا کوي. د علماوو اساسي او اصلي رول دا دی چې دوی د امت د باور کړکۍ ګڼل کېږي، حق له باطل څخه بېلوي او خلک د امن ځای او د رحمن جنت په لوري بیایي.

کېدی شي تر ټولو خطرناکه فتنه چې نن ورځ درباري علماء پکې راګېر دي، دا وي چې له امت سره د سایکس-پیکو د اصولو پر اساس تعامل کوي، هېوادپالنه او ملیتپالنه یې د امت د دښمنانو له خوښې سره سمه دود کړې ده. هر عالم د خپل هېواد له حاکم سره څنګ کې ودرېد او د امت پر وړاندې یې د هغه ټولو کړنو ته مشروعیت ورکړ؛ په داسې حال کې چې حاکم یې له ګمراهۍ او لارورکۍ سره مخ و او په کوم مسیر چې نوموړی روان و، بشپړ ناسم او د ناپوهۍ وروستۍ کنده ګڼل کېده؛ داسې چې امت تر دې وړاندې دغه ډول حالت نه و لیدلی؛ ان تر دې چې درباري عالم د حاکم سیوری او ښی لاس شو، چې د هغه په مټ به حاکم پر هر لوري او هر چا برید کاوه او بریالی به شو.

پخوا به عالم د خلیفه پر وړاندې لوړ مقام او منزلت درلود؛ خو اوس چې عالم څنګه له الله سبحانه وتعالی څخه وېرېږي، همداسې له حاکم څخه هم ډارېږي او ان تر هغه زیات وېرېږي. په دغو علماوو کې ځینو یې له یهودو سره د سولې د جواز، د عراق د اشغال لپاره له امریکا څخه د مرستې غوښتلو د جواز او د پارلماني ټاکنو د جواز فتوا ورکړه او هغوی د فاسدې هېوادپالنې او چټلې ملیتپالنې له لارې په بشپړه توګه د ژوند له

واقعیت سره تعامل کړی دی. هو، اې علماوو! دا زموږ د پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري پر تاسو غږ کېږي او بلنه درکول کېږي، چې پاڅېږئ او د حاکم له پیروۍ لاس واخلئ او د عز بن عبدالسلام غوندې دریځ ونیسئ!

اې ربه! موږ ته یو ځل بیا د نبوت پر منهج دویم راشده خلافت را په برخه کړه، چې په وسیله یې د مسلمانانو تیت و پرک حالت او بې اتفاقي پای ته ورسېږي. اې ربه! له هغوی څخه مصیبت لرې کړه. د خپل کریم نور په مرسته یو ځل بیا ځمکه روښانه کړه. اللهم آمین آمین.